د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org

## د ملګرو ملتونو استازی په افغانانو غږ کوي، چي فساد ته نه و وایي

**کابل، د اګست ۲۰، ۲۰۰۸**- نن ورځ په داسي حال کي چي د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی کای ایده د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام یو نوی فساد ضد رپوټ د لومړی ځل لپاره خپور کړ، د افغانستان په خلکو، مدني ټولني او رسنیو باندي یي غږ وکړ چي د فساد پر ضد راپورته شي.

په داسي حال کي چي په دغه موقع باندي یي د افغانستان د مالیي له وزیر انور الحق احدي سره خبري کولي، کای آیده وویل، فساد په افغانستان کي یوه ځایی وبا ده، بیوزله کسان په بی تناسبه توګه زیانمنوی، خلک له دولت څخه لري کوي، او زموږ هغه ګډي هڅي له پامه غورځوي، چي د افغانستان د خلکو لپاره سوله، ثبات او پرمختګ رامنځ ته کړو.

"زه د دولت د هغو ورستیو ګامونو هر کالی کوم چي د ملګرو ملتونو د فساد ضد میثاق یو غړی دولت ګرځیدلو په لاره کي یي اخیستي دي، یوه نوی فساد ضد پالیسي یي غوره کړي، او نوی فساد ضد بنسټ یي ایښي دی. د دغو اقداماتو بشپړ پلی کیدل به حیاتي او ضروری وي. خو د فساد په وړاندي باید له بنسټ څخه د افغانستان له خلکو، افغان مدني ټولني او د رسنیو یو ځای چي د دولت په ملاتړ کي یو مهم رول لوبولی، چلند وشي.

"هغوي په ګډه سره کولای شي د څارونکی په توګه اغیزناک عمل وکړي، څو د دي ډاډ ورکړي، چي عامه خدمتونه هغو خلکو ته رسیږي چي تر ټولو اړ دي او د دې چي دولتي چاروکي د هغو خلکو له خوا تر پوښتني لاندي ونیول شي چي دوي یي خدمت کوي. موږ ټول باید راپورته شو او د فساد ناوړه اغیزی ته **"نه"** ووایو.

"دا ډیره مهمه ده چي دولت باید د افغاني ټولني لپاره لازم امکانات برابر کړي او دا چي رسنی د دې توان ولري څو په اغیزمنه توګه خپل نقش ولوبوي. زه حکومت دې ته رابولم چي د ملي تقنین د دې ډګرونو د پیاوړتیا لپاره کار وکړي. ملګري ملتونه دې ته ژمن دي چي د افغانستان د دولت او خلکو سره یو ځای چي د فساد د مخنیوی پر خلاف سره یو ځای کار وکړي."

د یوې وروستنی سروې له مخي چي د افغانستان د بشپړتیایي څارونکی ډلي له خوا ترسره شوي ده یوه متوسط الحاله افغانی کورنی د اټکل له مخي هر کال ۱۰۰ ډالره په بډو ورکوي دا په داسی حال کی ده چي ۷۰ په سلو کي وګړي د ورځي په یو ډالر ژوند تیروي، په کورنیو باندي فشار ډیر زیات دی. د ۱۰۰- ۲۵۰ میلیونو ډالرو په خوا و شا کي هر کال د بډو لپاره ورکول کیږي. دغه اندازه د ۲۰۰۶ کال د پرمختیایي بودجي نیمایي ده.

د آسیا او آرام سمندر د بشري پرمختیا رپوټ جوتوي چي "د فساد سره مبارزه د ژوند بدلون تر عنوان لاندي په ټولو هغو دولتونو چي د آسیا او آرام سمندر په سیمه کي اوسیږي غږ کوي چي یو ځای دوي کولای شي د فساد پر ضد مبارزه وکړي او هغو ډګرونو ته توجه وکړي چي په ورځنی ژوند اغیزه کوي لکه د روغتیا، معارف، پولیسو او طبیعي زیرمي.

**ادیټورانو ته یادداښت:**

- د آسیا او آرام سمندر د سیمي لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام رپوټ "د فساد سره مبارزه د ژوند بدلون" مواد په www.undp.org.af انټرنیټ پاڼه کي شته.